# كَراماتِ عُثمانِ غَني

د شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د بيان دا رِساله "کراماتِ عثمانِ غنی" په اردو ژبه کښې ليکلي شوي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې، زياتې اوموميئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چې مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مَجلِسِ تَراجِم دَعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net

# فهرست


| | |
|---|---|
| كَراماتِ عُثمانِ غَني | 1 |
| د دُرُود شريف فضيلت | 1 |
| عجيبه معذوره | 1 |
| كُنيَت و اَلقابات | 3 |
| دوه ځله ئې جَنَّت په بَيعه واخستو | 4 |
| ۹۵۰ اوښان او پنځوس اَسونه | 6 |
| د خير د كارونو د پاره عطيات [يعني چنده] جمع كول سُنَّت دي | 7 |
| د عُثمانِ غني اِتِّباعِ رسُول | 9 |
| په خوراك كښې مِثالي سادَګي | 10 |
| هميشه به ئې روژې نيولې | 11 |
| د لړګو كيډې ئې راغستې وو او راروان وو! | 12 |
| ...... نو زه به دا خوښووم چه هِيرې شم | 13 |
| د آخِرت فِكر په زړه كښې نُور پيدا كوي | 14 |
| د بې وسو مددګار دي زمونږه نبي | 16 |
| حَسَنَينِ كرِيمَين ئې څوكۍ كوله | 18 |
| په اِيمان خاتِمه | 21 |
| د بدنظرۍ ورته معلومه شوه | 22 |
| په سترګو كښې وِيلې كړې سِيكه | 23 |
| سترګې به ئې د اور نه ډكې كړې شي | 24 |
| د كَرامت تعريف | 25 |
| د خپل قبر د ځائ خبر ئې وركړو! | 26 |
| د شهادت نه پس غيبي آواز | 27 |
| د خخيدو په وخت كښې د فرښتو كَنړه | 28 |
| ګستاخه ځناور ټوټې ټوټې كړو | 29 |
| صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ مَدَني آپريشن اوكړو | 30 |
| د لاس وركولو ۱۴ مَدَني ګلونه | 33 |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# كَراماتِ عُثمانِ غَني[1] (او نور حِكايات)

شيطان كه هر څومره ناراستي دروِلي خو تاسو دا رِساله پوره اولوَلئ اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی ستاسو په زړه كښ به د صحابه ډير محبَّت پيدا شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د مَكّي مدينې د سردار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بَرَكت نه ډك فرمان دي: ”اے خلقو! بيشكه د قيامت په ورځ به د هغې د يَرو او حِساب كتاب نه زر نجات موندونكي هُغه كس وي چا چه په تاسو كښ په ما باندې په دُنيا كښ په كثرت سره **دُرُود شريف** لوستلي وي.“

(الفردوس بمأثور الخطاب ج۵، ص۲۷۷ حديث ۸۱۷۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عجيبه معذوره

د **حضرتِ** سيِّدُنا اَبُو قِلابه رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بيان دي چه ما د شام په مُلك كښ يو سړې اوليدو چه هغه ساعت په ساعت دا خبره كوله

[1] دا بيان اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د تبليغِ قُرآن و سُنَّت د عالمگِير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي په عالمي مَدَني مركز فيضانِ مدينه (باب المدينه) كراچۍ كښ كيدونكي (۲۰ ذُوالحِجَّةُ الحرام ۱۴۲۹ھ، ۲۰۰۸ء) د سُنَّتو ډكه اجتماع كښ فرمائيلي وو، چه هغه د ترمِيم او اضافې سره چاپ كړې شو. مَجلِس مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

چه: "هائے افسوس! زما د پاره جَهَنَّم دې." زه پاخيدم او د هغه خوا ته ورغلم، چه او مې ليدو نو حيران پاتې شوم ځکه چه د هغه دواړه لاس او ښپې کټ شوي وو، په دواړو سترګو ړوند وو او په زمکه پړمخې پروت وو او ساعت په ساعت ئې هُم دا وئيل: "هائے افسوس! زما د پاره جَهَنَّم دې". ما د هغه نه تپوس اوکړو: اے سړيه! ته ولې او په څه وجه دا خبره کوې؟ هغه اووئيل: اے سړيه زما د حال تپوس مه کوه، زه په هُغه بد نصيبو کښې يم کوم چه د **اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ د شهيد کولو د پاره د هغوئي رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ کور ته داخِل شوي وو، زه چه کله تُوره په لاس هغوئي ته نزدې شوم نو د هغوئي بي بي محترمې رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا زه په زوره زوره رټل شروع کړم نو زه غُصَّه شوم او بي بي صاحِبه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا مې يو پړق اووهله! په دې باندې حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ما ته داسې ښيرې اوکړې: "اَللّٰه تَعَالٰی دِ ستا دواړه لاسونه او دواړه ښپې کټ کړي، تا دِ ړوند کړي او تا دِ جهنَّم ته غوزار کړي." اے سړيه! د **اميرُ الْمُؤمِنِين** رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ جَلالي مخ ته مې چه اوکتل او د هغوئي دا قهرژنې ښيرې مې چه واوريدې نو د يَرې نه مې د بدن وِيښته نيغ اودريدل او په رپيدو رپيدو د هُغه ځائ نه اوتښتيدم. [تر اوسه پورې] د **اميرُ الْمُؤمِنِين** رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په څلورو ښيرو کښې درې ښيرو خو زه وهلې يم، ته ما وِينې چه زما

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

دواړه لاسونه او دواړه ښپې کټ شوي دي او په سترګو هُم ړوند شوي يم، آه! اوس صرف څلورمه دُعا يعني زما جَهَنَّم ته داخليدل باقي پاتې دي. (اَلرِّیاضُ النّضرۃ لِمُحِبِّ الطَّبَری ج۳ص۴۱)

دو جہاں میں دشمنِ عثمان، ذلیل و خوار ہے
بعد مرنے کے عذابِ نار کا حقدار ہے

دُښمن د عُثمان دواړو جهانو کښې ذليل و خوار دې
پس د مرګه د عذابِ جَهَنَّم حقدار دې

## کُنيَت و اَلقابات

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** ۱۸ ذُالحِجَّةِ الحرام ۳۵ سنِ هِجري کښې د **اللّٰهُ** غني جَلَّ جَلالُهٗ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جليلُ القدر صحابي عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ډير زيات مظلومِيَّت سره شهيد کړې شو. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خُلَفائے راشِدِين (يعني حضرتِ سيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق، حضرتِ سيِّدُنا عُمر فاروق، حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني او حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمْ اَجْمَعِین) کښې دريم خليفه دې. د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ کُنيَت "اَبُو عَمرو" او لقب جامِعُ القُرآن دې او يو لقب ئې "ذُو النُّورَين" (يعني دوه نُورونو والا) هُم دې ځکه چه د **اللّٰه** تَعَالٰی نُور خوږ مَدَني حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرله پسې خپلې **دوه شهزادګۍ** د حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په نِکاح کښې ورکړې وې. ــه

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّي)

نُور کی سرکار سے پایا دو شالہ نُور کا
ہو مبارک تم کو ذُوالنورَین جوڑا نور کا (حدائق بخشش شریف)

**د شعر ترجمه:** د نُور والا سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرله پسې خپلې دوه لونړه مبارکې درکړې، اے ذُوالنُّورَین [یعني د دوه نورونو والا (عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ)] تاسو ته دِ د نُور جوړۀ مُبارکه شي.

هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ د اسلام د شروع کیدو سره اسلام قبول کړې وو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ ته "صاحِبُ الهِجرَتَین" (یعني د دوه هِجرتو والا) هُم وائي ځکه چه هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ مخکښې حَبشه ته او بیا مدینې مُنَوَّرې ته هِجرت کړې وو.

## دوه ځله ئې جَنَّت په بَیعه واخستو

**امیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سیِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ په خپل ژوند کښې د نبيِّ رَحمت تاجدارِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دوه ځله **جَنَّت** په بَیعه واخستو، یو پیره ئې په "بیرِ رُومه" اخستلو چه د یو یهودي نه ئې په بَیعه واخستو او د مسلمانانو د څښلو د پاره ئې وقف کړو او په دویم ځل د "جَیشِ عُسرت" په موقع. په "سُنَنِ تِرمِذی" کښې دي: د حضرتِ سیِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بِن خَبَّاب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دي چه زه د حُضُورِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضِر ووم او حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صَحابَۂ کِرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان ته د "جَیشِ

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

عُسرت'' (يعني د غَزوۀ تبُوك) د تيارئ د پاره ترغِيب ورکولو. حضرتِ سيِّدُنا عُثمان بِن عَفَّان رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ پاڅيدلو او عرض ئې اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کتو او نور متعلِّقه سامانه سره سل اوښان زما په ذِمّه دي. حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صَحابَۀ کِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته بيا ترغِيباً ارشاد اوفرمائيلو نو حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ بيا پاڅيدلو اوعرض ئې اوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه د پوره سامانه سره **دوه سوه اوښان** د حاضرولو ذِمه واري اخلم. د دوارو جهانو سُلطان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صَحابَۀ کِرَام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته بيا ترغِيباً ارشاد اوفرمائيلو حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ بيا عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه سره د سامانه **درې سوه اوښان** په خپله ذِمه قبلووم.

راوي فرمائي: ما اوليدلو چه د مديني تاجدار، په غيبو خبردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مِنبر نه ښکته تشريف راوړو او دوه ځله ئې اوفرمائيل: ''د نن نه پس چه عُثمان (رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ) هر څه کوي په هغې باندې هيڅ مُواخَذه (يعني تپوس) نشته.'' (تِرمِذِی ج۵، ص۳۹۱، حديث۳۷۲۰)

اِمَامُ الاَسخياء! کر دو عطا جذبہ سخاوت کا!
نکل جائے ہمارے دل سے حُبِّ دولتِ فانی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ۹۵۰ اوښان او پنځوس اَسونه

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! نن صبا دا ليدلي شوي دي چه ځيني خلق نورو ته اوكوري نو په جَذباتو كښې راشي او د چندې د پاره خپل نوم اوليكي خو چه كله د وركولو وخت راشي نو هغوئي ته وركول گران شي تر دې چه بعضې خو ئې بيا نه وركوي! خو قربان شم د عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د سخاوت نه چه هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د خپل اعلان نه ډيره زياته چنده ورِاندې كړه، **مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديث نه لاندې فرمائي: ياد ساتئ چه دا خو د هغوئي اعلان وو خو د حاضرولو په وخت كښې هغوئي ۹۵۰ اوښان، پنځوس اسونه او ۱۰۰۰ اشرفئ ورِاندې كړې، بيا وروسته ئې لس زره اشرفئ نورې ورِاندې كړې. (مُفتي صاحب نور فرمائي) خيال اوكړئ چه هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وړومبي ځل د سلو اعلان اوكړو، په دويم ځل ئې د سلو اوښانو نه علاوه د نورو دوه سوو او په دريم ځل ئې د نورو درې سوو يعني ټول ئې د شپږو سوو اوښانو (ورِاندې كولو) اعلان كړې وو. (مِرأةُالمناجيح، ج۸، ص۳۹۵)

مجھے گر مل گیا بحرِ سخا کا ایک بھی قطرہ
مرے آگے زمانے بھر کی ہو گی ہیچ سلطانی

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

ما ته که راکړې شي يوه ذرَّه د هغوئي د سَخا

نو بیا به نه کووم پرواه د زماني د بادشاهۍ

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خير د كارونو د پاره عطيات [يعني چنده] جمع كول سُنَّت دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بعضې نادان خلق د دِيني كارونو د پاره چنده كول بده ګنړي او د دې نه منع كول كوي، ياد ساتئ! بې وجه د دې كارِ خير نه منع كول شرعاً ناجائِزه دي [په دې باره كښې] په فتاوٰی رَضَوِیَّه جِلد ۲۳ صفحه ۱۲۷ كښې زما آقا اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د يو سوال په جواب كښې اِرشاد فرمائي: د خير د كارونو د پاره د مسلمانانو نه داسې چنده غوښتل بِدعت نه دي بلكه د سُنَّت نه ثابت دي، څوك چه د دې نه منع كول كوي (هغوئي) په مَنَّاعٍ لِّلْخَیْرِ مُعْتَدٍ اَثِیْمٍ (سیپاره ۲۹، اَلقَلَم:۱۲) ([مفهوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د ښیګړې نه ډیر منع كوونكې د حده تيريدونكې ګنهګار) كښې داخِل وي. د حضرتِ سيِّدُنا جَرِير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې، څه (حضرات) ښپې بلې، لُوڅ [يعني بربنډ] بدن، صرف يو څادر د كفن د قميص په شان خيرلې او په غاړه كړي د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت كښې حاضِر شو، حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چه د هغوئي مُحتاجي (يعني غريبي) اوليدله نو د مخ مُبارك رنګ ئې بدل شو.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزالعمال)

بِلال (رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنۡهُ) ته ئې د اذان حُكم اوكړو، د نمانځه نه پس ئې خُطبه اوفرمائيله، د آيت د تِلاوت كولو نه پس ئې اِرشاد اوفرمائيلو: ”څوك دِ په خپله اشرفۍ صَدَقه اوكړي، څوك په روپۍ، څوك په كپړه، څوك په خپلو لړو غنمو، څوك په خپلو لړو چوهارو، تر دې پورې ئې اوفرمائيل: اګر كه نيمه چوهاره.“ په دې اِرشاد مبارك اوريدو يو انصاري رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنۡهُ د روپو خلته راوړه چه د هغې په راوړلو د هغوئې لاسونه ستړي شو،بيا خلقو پرله پسې صَدَقات راوړل شروع كړل، تر دې چه دوه ډِيرِي د خوراك او د كپړو جوړ شو تر دې چه ما اوليدل چه د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارك د خوشحالۍ نه د كُندن (يعني خالصو سرو زرو) په شان اوځليدو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”څوك چه په اسلام كښې كومه يوه ښه لار را اوباسي [يعني شروع كړي] د هغه د پاره د هغې ثواب دې او د هغه نه پس چه څومره خلق په هغه لار عمل كوي د ټولو ثواب د هغه (ښې لارې وِيستونكي) د پاره دې بغير د دې نه چه د هغوئې (يعني د عمل كوونكو) په ثوابونو كښې څه كمي اوشي.“ (مُسلِم ص۵۰۸،حديث۱۰۱۷) د عطياتو [يعني چندې] په باره كښې د معلوماتو حاصلولو د پاره د مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه د ۱۰۷ صفحاتو كتاب ”چندے كے بارے ميں سوال جواب“ اولوَلۍ.

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

# د عُثمانِ غني اِتِّباعِ رسُول

**اميرُ الْمُؤمِنين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني زبردست عاشِقِ رَسُول بلکه د عِشقِ مُصطفٰی عَمَلي نمونه وو په خپلو اقوالو او اَفعالو [يعني کارونو او خبرو] کښې به ئې د **الله** تَعَالٰی د مَحبُوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو او اداګانو زبردست عمل کولو. لکه څنګه چه يوه ورځ عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د جُمات په دروازه کښې کښيناستلو او د چيلئ [يعني بِيزې] د مخکښنئ ښپې غوښه ئې را اوغوښتله او اوئې خوړله او د تازه اودس کولو نه بغير ئې نمونځ ادا کړو بيا ئې اوفرمائيل چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم په هُم دې ځائ ناست شوې وو او هُم دا ئې خوړلې وه او هُم داسې ئې کړې وو. (مُسندِ اِمام اَحمد ج۱، ص۱۳۷، حديث۴۴۱)

حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يوه ورځ اودس کولو او مُسکې شو! خلقو [د مُسکې کيدو] د وجهې تپوس اوکړو نو اوئې فرمائيل: ما يو ځل سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هُم دې ځائ باندې د اودس کولو نه پس په مُسکې کيدو ليدلې وو.
(اَيضاً ص۱۳۰، حديث۴۱۵ مُلَخَّصاً)

وُضو کرکے خَنداں ہوئے شاہِ عثماں کہا: کیوں تَبَسُّم بھلا کررہا ہوں؟
جوابِ سُوالِ مُخاطَب دیا پھر کسی کی ادا کو ادا کررہا ہوں

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُ الْعُمَّال)

اودس نه پس مُسکي شو شاهِ عُثمان وئيلي خبر ئي زه ولي مُسکا کوومه
د خپل سوال جواب ئي ورکړو ښځپله زه د چا اداء ادا کوومه

صَــلُّــوْا عَــلَـى الْـحَــبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په خوراك کښې مِثالي سادګي

د حضرتِ سيِّدُنا شُرَحْبِيل بِن مُسلِم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه **امِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به خلقو ته د مالدارانو په شان خوراك ورکولو او ښځپله به کور ته لاړو په سِرکه او زيتون به ئې ګُزاره کوله. (اَلزُّهْد للامام آحمد ص١٥٥ حديث٦٨٤)

## کله ئې نبي لاس شرم ګاه ته نه وو لګولي

**امِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: په کوم لاس چه ما د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لاس مُبارك بَيعَت کړي وو هغه (يعني ښي لاس) بيا ما کله هُم خپلې شرم ګاه ته نه دي لګولي. (اِبْنِ ماجه ج١ ص١٩٨ حديث ٣١١)

**حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ”په اللّٰه تَعَالٰی مې دِ قَسَم وي! ما نه د جاهِلِيَّت په زمانه کښې بدکاري کړې وه او نه د اِسلام قبلولو نه پس. (حِليَةُ الْاَوْلِيَاء ج١ ص٩٩)

## په بنده کمره کښې هم ډيره زياته شرم و حيا

حضرتِ سيِّدُنا حسن بصري رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د **امِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ډيرې زياتې شرم و حيا په باره کښې فرمائي:

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكئ ليكي. (تِرمِذی)

”كه هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به په يوه كوټه كښې وو او د هغې دروازه به هم بنده وه نو بيا به ئې هم د لامبلو د پاره جامې نه وِيستلې او د حيا په وجه به ئې ملا نه نيغوله.“ (حليةُ الْاَوْلِيَاء ج۱، ص۹۴ حديث۱۵۹)

## هميشه به ئې روژې نيولې

**اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به هميشه نفلي روژې نيولې او د شپې په اولنئ حِصّه كښې به ئې آرام كولو او په باقي شپه كښې به ئې قِيام (يعني عِبادت) كولو. (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَيبه ج۲، ص۱۷۳)

## خادِم ته به ئې تكليف نه وركولو

د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د عاجزئ دا حال وو چه د شپې به كله تَهَجُّد ته راپاڅيدلو او بل څوك به نه وو راپاڅيدلې نو پخپله به ئې د اوداسه [د اوبو وغيره] بندوبست كولو او څوك به ئې نه راپاڅولو او د چا په خوب كښې به ئې خلل نه اچولو. هغه داسې چه **اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به چه كله د شپې د تَهَجُّد د پاره راپاڅيدلو نو د اوداسه اوبه به ئې پخپله راغستلې. چا ورته عرض اوكړو چه تاسو ولې تكليف كوئ خادِم ته حُكم كوئ. اوئې فرمائيل: نه شپه د هغوئي ده په هغې كښې آرام كوي. (اِبنِ عَساكر ج۳۹ ص۲۳۶)

فرمانِ مُصطَفےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

## د لرګو کيدېِ ئي راغستي وو او راروان وو!

**اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ يوه ورځ د خپل باغ نه د لرګو کيدېِ راغستي وو او راروان وو حالانکه ډير غُلامان هُم موجود وو. چا ورته عرض اوکړو چه تاسو د لرګو دا کيدېِ په خپل غُلام ولې نه وړلو؟ اوئي فرمائيل: پرې وړلې مې شو خو زه د خپل نفس ازميښت اخلم چه هغه د داسې کولو نه عاجزه شوې خو نه دې يا دا ناخوښه خو نه ګڼړي! (اَللَّمع ص١٧٧)

## ما ستا غوږ تاو کړې وو

حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل يو غُلام ته اوفرمائيل: ما يو ځل ستا غوږ تاو کړې وو ځکه ته زما نه د هغې بدله واخله.

(اَلرِّياضُ النَّضرة، ج٣ ص٤٥)

## د قَبر په ليدلو به عُثمانِ غني ژړلو

**اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به د قطعي جَنَّتي کيدو باوجود هم د **قَبر** د ليدلو په موقع خپلې اوښکې نه شوې اودرولې چنانچه د **دعوتِ اِسلامي** د اشاعتي ادراې **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوې د ٦٩٥ صفحو کتاب "اللّٰہ والوں کی باتیں" (جِلد اَوَّل) په صفحه ١٣٩ کښې دي: **اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به چه کله

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

د کوم يو قَبر خوا ته اودريدو نو دومره به ئې ژړل چه په اوښکو به د هغوئې رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ ګِيره مبارکه لَمده شوه. (ترمِذِی ج٤ ص١٣٨ حديث٢٣١٥)

## ...... نو زه به دا خوښووم چه هِيرې شم

حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: "که زه د جَنَّت او دوزخ د مينځه اودرولې شم او ما ته دا نه وي معلومه چه ما ته به کوم طرف ته د تللو حُکم کيږي نو زه به دا خوښووم چه زه هِيرې شم، د دې نه مخکښې چه ما ته يو طرف ته د تللو حُکم راکړې شي." (اَلزُّهد للامام اَحمد ص١٥٥ حديث٦٨٦)

د قطعي جَنَّتي کيدو باوجود د اللّٰه تَعَالٰی د يَرې د غَلَبې په وجه هغوئې دا فرمائيلي دي. په دې ارشاد کښې د اللّٰه تَعَالٰی د پټ تدبِير نه د يَريدلو اِظهار دې چه چرې داسې اُو نه شي چه ما ته د جَنَّت په ځائ جَهَنَّم ته د تللو حُکم راکړې شي! ځکه ئې د دوزخ د عذاب د يَرې په وجه هِيرې کيدل خوښ کړل.

کاش! ایسا ہو جاتا خاک بن کے طیبہ کی
مصطفٰی کے قدموں سے میں لپٹ گیا ہوتا
(وسائل بخشش شریف ص257)

کاش چه زه جوړ شوې وې خاورې د طيبه
او د مُصطفٰي په قدمونو زه وې قُربان شوې

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعي په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنزالعمال)

## د آخِرت فِكر په زړه كښې نُور پيدا كوي

حضرتِ سيِّدُنا عُثمان اِبنِ عَفَّان رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: د دُنيا فِكر په زړه كښې تِياره او د آخرت فِكر پـكښې نُور پيدا كوي. (اَلمنبّهات ص٤)

## په عُثمانِ غني باندې كرم

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د مَكّي مديني سُلطان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په جامِعُ القُرآن، حضرتِ سيِّدُنا اِبنِ عَفَّان رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ باندې بيحده او بې اِنتِها مهربانه وو، په دې باره كښې يوه واقعه اوګورئ، هغه داسې چه حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن سلام رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي چه په كومو ورځو كښې باغيانو د حضرتِ سيِّدُنا عُثمان رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د كور مبارك نه ګيره تاو كړې وه، او د هغوئي كور ته ئې د اوبو يو څاڅكې هم نه پريښودو او حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د ډيرې تندې نه بيتابه وو. زه د ملاقات كولو د پاره حاضِر شوم نو هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په هغه ورځ روژه نيولې وه. زه ئې چه اوليدم نو اوئې فرمائيل: اے عبدُالله بن سلام (رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ) ما نن شپه تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په دې روشن دان كښې اوليدلو، سُلطانِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ډير زيات د مهربانئ په انداز كښې اوفرمائيل: ”دې خلقو په تا اوبه بندې كړې دي او ته ئې د تندې نه بيقراره كړې ئې؟“ ما عرض

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

اوکړو: آو جي [يا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم!] نو فوراً سردار د مديني صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اوبو يوه بوقه زما طرف ته رازوړنده کړه چه هغه د اوبو نه ډکه وه، زه په هغې موړ شوم او اوس دا وخت هُم د هغه اوبو يخوالې د خپلې سينې په دواړو طرفونو او د دواړو اُوګو د مينځه محسوسووم. بيا رَسُولِ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: اِنْ شِئْتَ نُصِرْتَ عَلَيْهِمْ وَاِنْ شِئْتَ اَفْطَرْتَ عِنْدَنَا "يعني که ته غواړې نو چه د دې خلقو په مقابله کښې ستا اِمداد اوکړم او که ته غواړې نو راشه زمونږ په خوا کښې روژه ماته کړه." ما عرض اوکړو: يا رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو په دربارِ مبارك کښې حاضريدل او هلته روژه ماتول ما ته زيات خوښ دي. حضرتِ سيِّدُنا عبدُاللّٰه بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه زه د هغې نه پس رُخصت شوم او بيرته لاړم او په هُم هغه ورځ باغيانو هغه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ شهيد کړو.

(کتابُ المنامات مع موسوعة الامام ابن اَبي الدُّنيا ج ٣، ص ٧٤، رقم ١٠٩)

حضرتِ سيِّدُنا جلالُ الدِّين سُيُوطی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل کوي چه حضرت عَلّامه اِبنِ باطِيش رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ (وفات ٦٥٥ هجري) د دې نه هُم دا مطلب اخلي چه (د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دِيدار والا) داواقِعه په خوب کښې نه بلکه د بيدارئ په حالت کښې پيښه شوي وه.

(الحاوی للفتاوی للسيوطی ج ٢ ص ٣١٥)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

کئی دن تک رہے محصُور ان پر بند تھا پانی
شہادت حضرتِ عثماں کی بے شک ہے لاثانی

**د شعر ترجمه:** حضرتِ عُثمان غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ډيرې ورځې د باغيانو په كيره كښې وو، اوبه ئې پرې هم بندې كړې وې، د هغوئې شهادت بې مِثاله وو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بې وسو مددګار دې زمونږه نبي

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د دې حِكايت نه معلومه شوه چه د مديني سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل پروردګار جَلَّ جَلَالُهٗ په عطا [يعني په وركړې شوي طاقت] د عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د ټولو حالاتو عِلم لرلو، او ورسره ورسره دا هم معلومه شوه چه زمونږه مَكِّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بې وَسو مددګار هُم دې ځكه خو ئې اوفرمائيل: اِنْ شِئْتَ نُصِرْتَ عَلَيْهِمْ "يعني كه ته غواړې نو چه د دې خلقو په مقابله كښې ستا مدد اوكړم".

غمزدوں کو رضاؔ مژدہ دیجے کہ ہے
بیکسوں کا سہارا ہمارا نبی (حدائق بخشش شريف)

زيرې واوروه غمژنو ته رضا دا    د بې وسو مددګار دې زمونږه نبي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وِينې توئيول نامنظور

د حضرتِ سيّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د بيمثاله صبر او برداشت نه قُربان شم! شهادت ئې قبول كړو خو په مدينهٔ مُنَوَّره كښې ئې د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، څوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

مسلمانانو وِينې توئيول خوښ نه کړل. د هغوئې د کور مبارك نه ګېره تاو کړې شوې وه او اوبه پرې بندې کړې شوې وې. ځان قربانوونکې د هغوئې کور مبارك ته راغلل او د باغيانو سره د جنګ کولو اجازت ئې اوغوښتو خو هغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د اجازت ورکولو نه اِنکار اوکړو او چه کله د هغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ غُلامان وَسله په لاس د [جنګ کولو د] اجازت غوښتلو د پاره حاضر شو نو ورته ئې اوفرمائيل چه: که تاسو ما خوشحالول غواړئ نو وَسلې کُوزې کړئ او واورئ! په تاسو کښې چه هر يو غلام وَسله کُوزه کړي ما هغه آزاد کړو. په اللّٰه عَزَّوَجَلَّ مې دِ قَسَم وي! د وينې توئيدلو نه مخکښ زما قتل کيدل ما ته زيات خوښ دي، د دې خبرې نه چه د وينې توئيدلو نه وروسته زه قتل کړې شم. (نِهايَةُ الاَرَب فِي فُنونِ الادب لِلنّويرى ج٣ص٧) يعنې زما شهادت ليکلې شوې دې او په غيبو خبردار محبُوبِ رَبِّ غَفَّار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته دا زيرې اورولې دې. حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپلو غُلامانو ته اوفرمائيل: ”که تاسو جنګ اوکړئ نو بيا به هُم زه شهيد کيږم.“

(تُحفۂ اثنا عشريه ص ٣٢٧)

جو دل کو ضِیاء دے جو مقدّر کو جِلا دے
وہ جلوۂ دیدار ہے عثمانِ غَنی کا

چه زړه کوي مُنوّر او مُقَدَّر کوي روښانه
داسې ښکلې دِيدار دې د عُثمانِ غني

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

# حَسَنَينِ كرِيمَين ئې څوکۍ كوله

حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی، شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰي وَجْهَهُ الْكَرِيْم به د حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ سره بيحده مَحَبَّت كولو. چه حالات ورته نازك ښکاره شو نو خپل دواړه شهزادګان حَسَنَينِ كرِيمَين يعني اِمام حَسَن او اِمام حُسَين رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا ته ئې اوفرمائيل: "تاسو دواړه خپلې تُورې واخلئ او د حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ دروازې ته اودرېږئ او څوکۍ كوئ. چه كله قضائے اِلٰهي جَلَّ جَلَالُهٗ غالِبه راغله او حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ شهيد شو نو حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ډير زيات خفه شو او اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ئې اوويئيلو.

خدا بھی اور نبی بھی خود علی بھی اُس سے ہیں ناراض
عَدُو اُن کا اُٹھائے گا قِیامت میں پریشانی (وسائلِ بخشش)

الله، نبي او علي هم دي ناراضه د هغه نه
دُښمن د هغه به وي په قيامته كښې پريشانه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# ګستاخه كس شادو جوړ شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د صَحابَهٔ كِرَام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره بُغض او دُښمني ساتل په دواړو جهانو كښې د نُقصان او خسارې سبب دې. په

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

دې باره کښې حضرتِ عارِف بِاللّٰه سَيِّدُنا نُورُ الدِّين عبدُ الرَّحمٰن جامي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل مشهور کتاب "شَواهِدُالنُّبُوَّه" کښې نقل کوي چه درې کسان د **يَمَن** په سفر روان شو په هغوئي کښې يو کُوفي (يعني د کُوفې اوسيدو والا کس) وو، هغه د شَيخَينِ کَرِيمين (يعني د حضرتِ سيِّدُنا ابُوبکر صِدِّيق او حضرتِ سيِّدُنا عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا) گُستاخه وو، هغه ته نصيحت اوکړې شو خو هغه [د گُستاخۍ نه] نه قلاريدو. چه کله هغه درې واړه **يَمَن** ته نزدې اورسيدل نو په يو ځائ کښې ئې دمه اوکړه او اُوده شو. چه کله د روانيدو وخت راغې نو په هغوئې کښې دوه کسان پاڅيدل او اودسونه ئې اوکړل او بيا ئې هغه گُستاخه کُوفي راپاڅولو. هغه چه راپاڅيدو نو وئيل ئې افسوس! زه ستاسو نه په دې مَنزِل کښې وروسته پاتې شوم، تاسو زه رسا هغه وخت راپاڅولم چه کله رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما سر ته تشريف راوړې وو او ارشاد ئې فرمائيلو: "اے فاسِقه! **اللّٰه تَعَالٰی** فاسِق ذليله کوي او خواروي، په هُم دې سفر کښې به ستا شکل بدل شي." چه کله هغه گُستاخه د اوداسه د پاره کښيناستو نو د هغه د ښپو گوتې ورانيدل شروع شو، بيا د هغه دواړه ښپې د شادو د ښپو په شان شوې، بيا د زنگنونو پورې د شادو په شان شو، تر **دې چه د هغه ټول بدن د شادو په شان شو**. د هغه گُستاخه کس ملگرو هغه اونيولو او د اوښ په کته پورې ئې اوتړلو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

او د خپل منزِل په طرف روان شو. د نمر پريوتو په وخت كښې هغوئي يو داسې ځنګل ته اورسيدل چه هلته څه شادوګان راجمع شوي وو، چه كله هغه، هغه شادوګان اوليدل نو بې قراره شو او د رسئ نه ئې ځان خلاص كړو او لاړ د هغوئي سره يو ځائ شو. بيا ټول شادوګان د دوئي خو اته راغلل نو دوئي اوېَريدل خو هغوئي دوئي ته هيڅ تكليف ورنكړو او هغه د شادو په شان ګُستاخه د دې دواړو خوا ته كښيناستو، دوئي ته ئې كتل او اوښكې ئې بهيدلې. يو ساعت پس چه كله شادوګان روان شو نو هغه هم د هغوئي سره لاړو. (شَواهِدُ النُّبُوَّة، ص۲۰۳)

ہم اُن کی یاد میں دھومیں مچائیں گے قیامت تک
پڑے ہو جائیں جل کے خاک سب اعدائے عثمانی (وسائل بخشش ص498)

عُثمانِ غني به مونږ يادوو په شوق تر قِيامته
خاورې دِ شي په سوَزيدو دُښمنان د هغه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چه د شَيخَينِ كَرِيمَين ګُستاخه كس شادو جوړ شو. اللّٰه تَعَالٰى بعضې بعضې كسانو ته په دې دُنيا كښې هُم داسې سزا وركوي او د خلقو د پاره ئې د عِبرت نمونه جوړوي، د دې د پاره چه خلق اوېَريږي او د ګناهونه او ګُستاخئ نه توبه اوكړي، اللّٰه تَعَالٰى دِ مونږه د صَحابَهٔ كِرَام او اَهلِبَيتِ عِظام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره محبَّت كوونكي لري.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

ہم کو اصحابِ نبی سے پیار ہے ان شاءَ الله اپنا بیڑا پار ہے

ہم کو اہلبیت سے بھی پیار ہے ان شاءَ الله اپنا بیڑا پار ہے

مونږه لرو د صحابه سره محبَّت اِنۡ شَآءَاللّٰه مونږ به يو کامياب

هم لرو د اَهلِبَيت سره مَحَبَّت اِنۡ شَآءَاللّٰه مونږ به يو کامياب

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په اِيمان خاتِمه

د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دې چه د مديني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يوې فِتني تذکِره اوکړه او د حضرتِ سيِّدُنا عُثمان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د پاره ئې اوفرمائيل چه دا به په هغې کښې ظُلماً شهيد کړې شي. (ترمِذی ج٥، ص٣٩٥، حديث٣٧٢٨)

**مُفَسِّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د دې حديث نه لاندې فرمائي: په دې اِرشاد کښې يو څو غيبي خبرونه دي، [يعني] د حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د وفات تاريخ، د هغوئې د وفات ځائ، د هغوئې د وفات طريقه چه شهيد کيږي به، د هغوئې په اِيمان خاتِمه ځکه چه د شهادت د پاره د اِسلام په حالت کښې مرګ ضروري دې، دا دې د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِلمِ غيب.

(مُلَخَّص از مِراٰۃ، ج٨، ص٤٠٣)

جس آئینے میں نورِ الٰہی نظر آئے

وہ آئینہ رُخسار ہے عثمانِ غنی کا (ذوقِ نعت)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرَاني)

کومه آئِنه کښې چه ښکاري نُورِ اِلٰهی
هٰغه آئِينه ده رُخسار د عُثمانِ غَني

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بدنظرۍ ورته معلومه شوه

حضرتِ عَلّامه تاجُ الدِّين سُبکي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل کتاب ”طَبقات“ کښې ليکي چه يو کس په لار کښې يوې ښځې ته په غَلَط نظر اوکتل بيا چه کله هغه د اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت کښې حاضِر شو نو حضرتِ اميرُ الْمُؤمِنِين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ډير زيات د جَلال [يعني غُصَّې] په انداز کښې اوفرمائيل: تاسو په داسې حالت کښې زما مخې ته راځئ چه ستاسو په ستركو کښې د زِنا اَثَرات وي! هغه کس اووئيل چه آيا د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس په تاسو وحي نازِليدل شروع شوي دي؟ تاسو ته څنګه معلومه شوه چه زما په ستركو کښې د زِنا اثرات دي؟ اِرشاد ئې اوفرمائيلو چه ”په ما وَحِي خو نه نازليږي خو ما چه څه اووئيل، هغه بالکل رښتيا خبره ده. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ما ته داسې فِراست (يعني نُوراني بصيرت) عطا کړي دي چه د هغې په ذريعه د خلقو د زړونو د حالاتو او خيالاتو نه خبريږم.“ (طَبَقاتُ الشَّافِعِيَّةُ الكُبرٰی لِلسُّبکِی ج۲، ص۳۲۷ وغيره)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِى)

## په ستركو كښې وِيلې كړې سِيكه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ بصِيرت لرونكې او صاحِبِ باطِن [يعني د زړونو د حال نه خبردار] وو څكه هغوئي رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د خپل كَرامت د نظر په ذريعه د هغه كس د ستركو نه شوي كُناه اوليدله او د هغه ستركې ئې زِناكارې قرار كړې. بيشكه نامَحرمې يعني د چا سره چه نِكاح د هميشه د پاره حرامه نه وي هغې ته د شَرعي اِجازت نه بغير كتل ډيره غټه زړورتيا ده. منقُول دي: ”څوك چه په شَهوَت د كومې نامحرمې حُسن وجمال [يعني ښائِست] ته كوري د قِيامت په ورځ به د هغه په ستركو كښې وِيلې شوې سِيكه اچولې كيږي.“ (هِدايه ج٤ ص٣٦٨)

## د مُختَلِفو اندامونو زِنا

د اللّٰه تَعَالٰى د خوږ مَحبُوب، مكّي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دي: ”د ستركو زِنا كتل، د غوږونو زِنا اوريدل، د ژبې زِنا وئيل، د لاسو زِنا نيوَل او د ښپو زِنا تلل دي.“ (مُسلِم ص١٤٢٨، حديث٢١، (٢٦٥٧)

مُحَقِّق عَلَى الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِين، حضرتِ عَلّامه شيخ عبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې فرمائي: د ستركو زِنا بدنظري، د غوږونو زِنا د بې حيائې او د حَرامو د خبرو اوريدل

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

دي، د ژبې زِنا حرامې او د بې حيائې خبرې كول دي او د ښپو زِنا بدو كارونو طرف ته تلل دي. (اشعة اللّمعات ج۱ ص۱۰۰)

## سترګې به ئې د اور نه ډكې كړې شي

د **بدنظرئ** نه بچ كيدل ډير ضروري دي ګني قَسَم په خُدایٔ! د دې عذاب به څوك هم برداشت نه كړې شي. منقُول دي: "څوك چه خپلې سترګې د حرامو كتلو نه ډكوي د قيامت په ورځ به د هغه سترګې د اور نه ډكې كړې شي." (مُكَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۱۰)

## د اور سلائي

**فِلمونه** او ډرامې كتونكو او نامَحرمو او اَمردو ته په بد نظر كتونكو د پاره د فِكر مقام دې، واورئ! واورئ! حضرتِ علّامه اِبنِ جَوزي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نقل كوي: د زنانه ښائِست ته كتل د اِبلِيس يو د زَهرو اوبه وركړې شوې تِير دې، چا چه د نامحرمو نه د سترګو حِفاظت اونكړو د هغه په سترګو كښې به د قِيامت په ورځ د اور سلائي وهلې كيږي. (بَحرُ الدُّمُوع ص۱۷۱)

## نظر په زړه كښې د شهوت تُخم كَري

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د سترګو د حِفاظت هر وخت تركيب كوئ، دا آزادي مه پريږدئ ګني دا مو د هلاكت جَوَړې كندې ته

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

غورزولې شي، حضرتِ سیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلَیْهِ السَّلام اِرشاد فرمائي: ”د خپل نظر حِفاظت کوئ ځکه چه دا په زړه کښې د شَهوَت تُخم کَري او د فِتنې د پاره هُم دا کافي دې.“ (اِحیاءُ الْعُلوم ج۳ ص۱۲٦) نبي اِبنِ نبي حضرتِ سیِّدُنا یحيٰ بِن زَکَرِیَّا عَلَیْهِمَا الصَّلوٰةُ السَّلَام نه تپوس اوکړې شو: د زِنا شروع څه څيز دې؟ اوئې فرمائيل: ”کتل او خواهِش کول.“ سِیپاره ١٨ سُوْرَةُ النُّور آیت نمبر ٣٠ کښې د اَللّٰهُ رَبُّ الْعِباد ارشاد دې:

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ یَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَ یَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ؕ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِیْرٌۢ بِمَا یَصْنَعُوْنَ ﴿۳۰﴾

[مفهوم] تَرجَمۂ کَنزُ الْاِیمَان مسلمانانو سرِو ته حُکم اوکړئ چه خپلې سترګې لږې ښکته ساتئ او د خپلې شرم ګاه حِفاظت کوئ دا د هغوئي د پاره ډېر سُتره دې، بیشکه الله ته د هغوئي د کارونو خبر دې.

## د کَرامت تعریف

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه امیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ صاحِبِ کَرامَت صحابي وو، ځکه خو هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هغه کس ته په بد نظرئ باندې خبرداري ورکړو. کَرامَت څه څيز دې؟ په دې باره کښې بلکه د اِرهاص، مَعُونَت، اِستِدراج او اِهانَت په تعریفاتو هم ځان پوهه کړئ. د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوې بهارِ شریعت جِلد اوَّل صفحه ٥٨ کښې لِیك دې: ”د نبي نه چه کومه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

خبره خِلافِ عادَت د نُبُوَّت نه مخكښې ظاهِره شي هغې ته **اِرهاص** وائي او كه د وَلي نه داسې خبره ظاهِره شي هغې ته كَرامَت وائي او د عامو مُؤمِنينو نه چه ظاهِره شي هغې ته **مَعُونَت** وائي او د بيباكه فُجَّارو يا كُفّارو نه چه څه د هغوئي د خواهش مطابق ظاهر شي هغې ته **اِستِدراج** وائي او كه د دې خِلاف ترې ظاهر شي نو هغې ته **اِهانَت** وائي.“

عُلوئے شان کا کیوں کر بیاں ہو اے مرے پیارے
حیا کرتی ہے تیری تو شہا مخلوقِ نورانی

ستا عَظَمت په كومو ټكو كښې بيان كړو
ستا نه كوي حيا مخلوقِ نُوراني

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خپل قبر د ځاۓ خبر ئې وركړو!

حضرتِ سيِّدُنا اِمام مالِك رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه **اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني يو ځل د مديني مُنَوَّرې د اَديرې ”**جَنَّتُ الْبَقِيع**“ ءغه حِصّې ته تشريف يوړو كومې ته به چه ”**حَشِّ كَوكَب**“ وئيلې شو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هلته په يو ځاۓ اودريدلو او اوئې فرمائيل: ”نزدې ده چه دلته به يو كس خخ كړې شي.“ د هغې نه لږه موده پس هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ شهيد كړې شو او باغيانو د جنازې مباركې داسې بې ادبي

اوكړه چه نه ئې د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَوضې مُباركې خوا ته خخولو ته پرېښودو او نه ئې د جَنَّتُ الْبَقِيع په هغه حِصّه كښې خخيدو ته پرېښودو په كوم ځائ كښې چه غټ غټ صَحابَهٔ كِرَام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان دفن وو بلكه د ټولو نه جُدا په "حَشِّ كَوكَب" كښې خخ كړې شو چه هلته [خخيدل] د چا په خيال كښې هُم نه وو ځكه چه د هغه وخته پورې هلته يو قبر هُم نه وو. (كَراماتِ صحابه ص۹٦، اَلرِّياضُ النَّضرة، ج۳ ص٤۱ وغيره)

اللہ سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا
محبوبِ خدا یار ہے عثمانِ غنی کا (ذوقِ نعت)

**د شعر ترجمه:** عُثمانِ غني د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ سره ډېر زيات مَحَبَّت لري او د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عُثمان غني رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ دوست دې.

## د شهادت نه پس غيبي آواز

د حضرتِ سيِّدُنا عَدي بِن حاتِم رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بيان دې چه: د حضرتِ سيِّدُنا **اميرُ الْمُؤمِنين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ د شهادت په ورځ ما په خپلو غوږو واريدل چه څوك په اوچت آواز وائې: اَبْشِرِ ابْنَ عَفَّانَ بِرَوْحٍ وَّرَيْحَانٍ وَّبِرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ ط اَبْشِرِ ابْنَ عَفَّانَ بِغُفْرَانَ وَرِضْوَان (يعني حضرتِ عُثمان رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ ته د راحت او خوشبو خوشخبري وركړه او د نه ناراضه كيدو والا ربّ تَعَالٰى د ملاقات خوشحاله كوونكې خبر وركړه او د **اللّٰه** تَعَالٰى د غُفران او رِضوان (يعني د بخښنې او رضا) خوشخبري هم وركړه) حضرتِ

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَاني)

سیِّدُنا عَدي بِن حاتِم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه ما دا آواز واوریدو نو اخَّوا دیخوا مې سترګې واړولې راواړولې او شا ته مې هُم اوکتل خو هیڅ څوك مې او نه لیدو. (اِبنِ عَساکِر ج۳۷، ص۳۵۵، شَواهِدُ النُّبوَّة، ص۲۰۹)

اللّٰہُ غنی حد نہیں انعام و عطا کی
وہ فیض پہ دربار ہے عثمانِ غنی کا (ذوقِ نعت)

د اللّٰہُ غني ورکړه او اِنعام دې بېحده
ورکړې ئې بَرَکتونه په دربار کښې د عُثمان

## د خخیدو په وخت کښې د فرښتو ګڼړه

رِوایت دې چه د هغوئي جنازه یو څو جان نِثارو [یعني ځان قُربانوونکو] اوچته کړه او جَنَّتُ الْبَقِیع ته اورسیدل، قبر ئې کنستلو چه ناڅاپه په سوَرلو سواره ډیر ګڼړ شمیر کسان جَنَّتُ الْبَقِیع ته راداخِل شُو چه هغوئي ئې اولیدل نو دوئي اویَریدل. هغه سوَرو کسانو په اوچت آواز او وئیل: تاسو بالکل مه یریږئ مونږه هُم د دوئي په تدفین [یعني خخولو] کښې شریك کیدو د پاره حاضِر شوي یو. دا آواز ئې چه واوریدو نو د دوئي یَره ختمه شوه او په اطمینان سره ئې حضرتِ سیِّدُنا عُثمان بِن عَفَّان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دفن کړو. د اَدیرې [یعني قبرستان] نه چه بیرته راغلل نو هغه صحابیانو (عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان) په قَسَم سره خلقو ته او وئیل چه یقیناً دا د فرښتو ډله وه. (کَراماتِ صحابه ص۹۹، شَواهِدُ النُّبوَّة، ص۲۰۹ مُلَخَّصاً)

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّي)

رُک جائیں مِرے کام حسنؔ ہو نہیں سکتا
فیضان مددگار ہے عثمانِ غنی کا (ذوقِ نعت)

څنګه به نه کيږي زما کارونه اے حَسَن
بَرَکتونه راسره دي د حضرتِ عُثمان

## ګستاخه ځناور ټوټې ټوټې کړو

منقول دي چه د حاجيانو يوه قافِله مديني مُنَوَّرې ته حاضِره شوه. د قافِلې ټول كسان د حضرتِ **اميرُ الْمُؤمِنين حضرتِ سيّدُنا** عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د مزارِ مُبارك د دِيدار د پاره لاړل خو يو ګُستاخه د سپك نظر او بې ادبئ په وجه د زيارت د پاره لاړ نه شو او دا بهانه ئې اوكړه چه مزار ډير لرې دي. قافِله چه كله خپل وطن ته بيرته تلله نو په **لاره كښې يو خوفناك ځنګلي ځناور په غريدو غريدو راغې او په هغه ګستاخه كس ئې حمله اوكړه او هغه ئې اوشيرو او ټوټې ټوټې ئې كړو!** دا يَرووُنكې منظر ئې چه اوليدو نو د قافلې ټولو كسانو اووئيل چه دا د حضرتِ سيّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د ګُستاخئ انجام دي.

(شَواهِدُ النُّبُوَّة، ص ٢١٠)

بیمار ہے جس کو نہیں آزارِ محبت
اچھا ہے جو بیمار رہے عثمانِ غنی کا (ذوقِ نعت)

بيمار دي هغه كس چه نه لري دردِ مَحَبَّت
جوړ دي هغه كس چه بيمار دي د حضرتِ عُثمان

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ د ځومره اوچتې دَرَجې صحابي دې. د دې نه دِ ځوك دا مطلب نه اخلي چه صِرف د مزارِ مُبارك د ديدار د پاره نه تللو په وجه هغه كس هلاك شو بلكه خبره دا وه چه هغه د حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ كُستاخه وو او د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ سره په زړه كښې د دُښمنئ ساتلو په وجه نه وو حاضِر شوې.

## صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ مَدَني آپريشن اوكړو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د **الله** و رَسُول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د صَحابَهٔ كِرَامو او د اَهلِ بَيتِ عِظام عَلَيهِمُ الرِّضوَان د اُلفت او مَحَبَّت حاصلولو د پاره د تبلِيغِ قرآن و سُنَّت د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د خوشبوداره مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تعلق مضبوط ساتئ، هفته واره سُنَّتو نه ډكه اِجتِماع كښې په پابندئ سره شِركت كوئ، هره ورځ د فِكرِ مَدِينه په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډكوئ او خپل ذِمّه دار ته ئې[د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ] **جمع** كوئ، او د دعاګانو د قبليدو او د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره د **دعوتِ اِسلامي** د عاشِقانِ رسول سره هره مياشت كم از كم د درې ورځو په مَدَني قافِله كښې د سُنَّتو نه ډك سفر سعادت حاصلوئ او صرف يواځې نه بلكه په نورو اسلامي ورونړو هُم **اِنفِرادي كوشش** كوئ او هغوئي هُم

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (اَبُو يَعلىٰ)

د مَدَني قافِلې د پاره تياروئ. راځئ! د مَدَني قافِلې يو خوشبوداره **مَدَني سپرلې** واورئ، په دې باره كښې د يو عاشقِ رسُول بيان په خپلو الفاظو كښې د وړاندې كولو كوشش كووم: زمونږه مَدَني قافِله "**ناكه كهاړړي**" (بلوچستان، پاكستان) ته د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره حاضره شوې وه، د **مَدَني قافِلې** د يو مسافر په سر كښې ځلور وړې وړې غُوټې شوې وې او د هغې په وجه به د هغه په نِيم سر باندې سخت درد وو، چه كله به پرې درد راغې نو د درد طرف ته مخ به ئې تور شو او هغه به د تكليف نه داسې ارغبنتلو چه چا به ورته كتلې نه شو. يوه شپه هُم دغسې هغه د درد د لاسه ارغبنتلو، مونږه ګولئ وركړې، د هغې سره اُوده شو چه سحر راپاخيدلو نو خوشحاله خوشحاله وو. هغه اووئيل چه اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په ما كرم اوشو، په خوب كښې راباندې **سرادر د مدينې** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د ځلورو واړو يارانو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان كرم اوفرمائيلو، **خوږ مَدَني آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما طرف ته اِشاره اوكړه او حضرتِ سيِّدُنا اَبُوبكر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنۡهُ ته ئې اوفرمائيل: "د ده درد ختم كړه." په دې خبره يارِ غار و يارِ مزار سيِّدُنا صِدِّيقِ اَكبر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنۡهُ زما داسې **مَدَني آپريشن** اوكړو چه زما سر ئې اوسپړدلو او زما د دِماغو نه ئې ځلور تورې دانې را او وِيستلې او اوئې فرمائيل: "بچيه اوس به تا ته هيڅ [تكليف] نه كيږي" د دې

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

مَدَني سپرلي راوي وائي چه واقعي هغه اسلامي ورور بالکل جوړ شوي وو. د سفر نه چه بيرته راغي نو هغه دوباره ''مُعائِنه'' اوکړه، ډاکټر حيران شو او اوئې وئيل چه: وروره عجيبه کمال دې، ستا د دِماغو ځلور واړه داني غائبي شوي دي، هغه ورته په ژړا ژړا د مَدَني قافِلې د سفر د بَرَکت او د خوب تَذکِره اوکړه. ډاکټر ډير زيات مُتاثِره شو، د هغه اسپتال د ډاکټرانو سره هلته موجودو دولسو کسانو د دولسو ورځو په مَدَني قافِله کښې د سفر نِيَّتونه اوليکل او ځيني ډاکټرانو سمدستي د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحبَّت نښه، ږيره مبارکه د پريښودلو نِيّتونه اوکړل.

ہے نبی کی نظر، قافلے والوں پر آ ؤ سارے چلیں قافلے میں چلو
سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو لُوٹنے رَحمتیں قافلے میں چلو

د نبي دي نظر، د قافلې په مسافر
ځئ چه ټول لاړ شو، قافِلو کښې لاړ شئ
زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
رحمتونه اُوموعئ قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(فيضانِ سُنَّت (جِلد اَوّل) ص ٤٥ بتغيُّر قليل)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت،

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعي په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

شَهَنْشاهِ نُبُوّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سُنّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به په جنّت كښ زما سره وي." (ابنِ عساكر ج٩ ص٣٤٣)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت كښ مي خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "مُصافَحه كول سُنّت دي" د خوارلسو حُروفو

## په نِسبت د لاس وركولو ١٤ مَدَني ګلونه

﴿١﴾ د دوو مسلمانانو د مُلاقات په وخت كښ په دواړو لاسو مُصافَحه كول يعني دواړه لاس وركول سُنّت دي ﴿٢﴾ لاس وركولو نه مخكښ سلام كوئ ﴿٣﴾ د رُخصتيدو په وخت كښ هم سلام كوئ او لاس هُم وركولې شئ ﴿٤﴾ د نبيِّ مُكَرَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارك دې: "چه كله دوه مسلمانان د ملاقات كولو په وخت كښ مُصافَحه كوي [يعني لاس وركوي] او د يو بل نه د خيريت تپوس كوي نو الله عَزَّوَجَلَّ د هغوئي په مينځ كښ سل رَحمتونه نازِلوي چه په هغې كښ يو كم

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

سَل رَحمتونه په زياته ګرم جوشئ سره ملاقات کولو والا او په ښه طريقه د خپل ورور د خيريت تپوس کولو والا د پاره وي." (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج۵، ص۳۸۰، حديث۷۶۷۲) ﴿۵﴾ د لاس ورکولو په دوران کښې دُرُود شريف لوَلئ، د لاسو بيليدو نه مخکښې به مو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ تير شوي او راروان ګُناهونه اوبخښلې شي ﴿۶﴾ د لاس ورکولو په وخت کښې د درود شريف وئيلو نه پس که کيدې شي دا دُعا هم لوَلئ: "يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ" (يعني اللّٰه تَعَالٰی دِ زمونږه او ستاسو بخښنه اوکړي) ﴿۷﴾ دوه مسلمانان چه د لاس ورکولو په دوران کښې څه دُعا کوي اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ قبليږي به، او د لاس جُدا کيدو نه مخکښې مخکښې به د دواړو بخښنه اوشي اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ﴿۸﴾ يو بل سره مُصافَحه کولو [يعني لاس ورکولو] سره دُښمني لرې کيږي ﴿۹﴾ مسلمان ته سلام کولو، مُصافَحه کولو بلکه په مِينه کتلو کښې هُم ثواب دې. حديثِ پاك کښې دي: څوك چه خپل ورور ته د مَحَبَّت نه ډك نظر باندې اوګوري او د هغه په زړه کښې دُښمني نه وي نو د سترګو اړولو نه مخکښې مخکښې به د دواړو تير شوي ګُناهونه معاف شي. (اَيضاً ج۶، ص۱۳۱ حديث۸۲۵۱)

﴿۱۰﴾ چه څو ځله ملاقات کيږي هره پيره مُصافَحه کولې شئ ﴿۱۱﴾ نن صبا ځيني خلق د دواړه طرفه نه يو يو لاس ورکوي بلکه صِرف د ګوتو سرونه د يو بل سره اولګوي، دا ټول د سُنّتو خِلاف دي ﴿۱۲﴾

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (كَنزُالْعُمَّال)

د مُصافحه کولو نه پس خپل لاس ښکلول مکروه دي. (بَهارِ شرِيعَت ج۳، ص۴۷۲) (د مُصافحه کولو نه پس خپل لاس ښکلولو والا اسلامي وروڼه دِ خپل عادت لرې کړي) خو که د يو بزرګ سره د مُصافَحه کولو نه پس د بَرَکت حاصلولو د پاره خپل لاس ښکُل کړي نو کراهَت نشته. ځنګه چه اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي چه: که د چا سره ئې مُصافَحه اوکړه او بيا ئې د بَرَکت د پاره خپل لاس ښکل کړو نو د منع کولو هيڅ وجه نشته، هله چه د چا سره ئې مُصافَحه کړي وي هغه د هُغه کسانو نه وي د چا نه چه بَرَکت حاصليږي. (جدّالممتار، کتابُ الحظر وَالإباحة، مقوله ٤٥٥١، غير مطبوعه) ﴿۱۳﴾ که د اَمرَد (يعني ښکلي هلك يا هر يو سړي) سره مُصافَحه کولو کښې شهوت پيدا کيږي نو د هغه سره مُصافَحه کول جائِز نه دي بلکه که د کتلو سره شهوت پيدا کيږي نو بيا کتل هُم ګُناه ده. (دُرِّمُختار ج۲ ص۹۸) ﴿۱٤﴾ مُصافَحه کولو (يعني لاس ورکولو) وخت کښې سُنَّت دا دي چه په لاس کښې رومال وغيره نه وي، دواړه ورغوي تش وي او د ورغوي سره ورغوې لګيدل پکار دي. (بَهارِ شرِيعَت ج۳، ص۴۷۱)

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه ۱٦ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب "سُنَّتيں اور آداب" هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښ به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښ د عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو نه ډك سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو　　سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

زده کړئ ښکلي سُنّتونه قافِلو کښ لاړ شئ
اوګټئ ډير رحمتونه قافلو کښ لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښ لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافلو کښ لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ**

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره کښ د **مَکتَبَةُ الْمَدِينه** نه شائع شوي رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسيم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاهکونو ته په تحفه کښ ورکولو د پاره په خپلو دُکانونو کښ هم د رِسالو ايښودلو عادت جوړکړئ، د اخبار خرڅونکو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاوَنډ کښ کور په کور وقفه په وقفه کله يوه کله بله د سنّتو نه ډکو رِسالو رسَوَلو په ذريعه د نيکئ دعوت عام کړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.

طلب غم مدینہ بقیع و مغفرت وبے حساب جنّت الفردوس میں آقا کا پڑوس